مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

خوشحال آصفي ۲۰۱۸/۱۲/۱۱

# افغانان هم میلونران کیدلی شي

# خو

# په یو شرط

په داسي حال کي چي د رونتیا د څار بنسټ هرو دوو کالو کي په افغانستان کي د فساد په اړه سروې ترسره کوي؛ سرنۍ څېړنه یي ښیي چي په روان میلادي کال کي له 4،5 میلیونه ډېرو افغانانو کابو دوه ملیارده ډالره رشوت ورکړې دی. دغه ارقام په 2016 میلادي کال کي له اوسنی اندازې کابو یو ملیارد کموالی ښیي. یعني په 2016 کال کي کابو دري ملیارده ډالره رشوت ورکړل شوی و. خو اساسي پوښتنه دا ده چي آیا رښتیا هم په تېرو دوو کالو کي په اداراتو کي فساد کم شوی دی؟
د رونتیا د څار بنسټ د یوې سروې له مخې د افغانستان په 34 ولایتونو کي له 8000 افغانانو پوښتلي چي د رشوت ورکولو دلیل یي څه دی، ډېری پوښتل شویو کسانو ویلي چي له خدماتو څخه د برخمن توب لپاره یي بله لاره درلوده نو ځکه یي رشوت ورکړی دی. د دغي سروې له مخي د افغانستان محکمي، لویه څارنوالي او د معارف وزارت هغه بنسټونه یاد شوي چي د نورو اداراتو په پرتله په کي ډېر فساد ترسره شوی دی.

## آیا رښتیا هم په تېرو دوو کالو کي په اداراتو کي فساد کم شوی دی؟

د رونتیا د څار بنسټ د وروستی سروې له مخي په روان کال کي کابو دوه ملیارد ډالره رشوت ورکړل شوی، په داسي حال کي چي دغه رقم په 2016 کال کي کابو دري ملیارده ډالره ښودل شوی و. سمه ده چي افغان حکومت په تېرو دوو کلونو کي د فساد پر ضد مبارزه کي ګامونه اخیستلي دي اما د تېر کال په نسبت سرکال د ورکړل شوي رشوت په ارقامو کي کموالی اصلاً په دې معنا نه دی چي ګویا د افغانستان په ادراتو کي فساد کم شوی دی. ځکه د 2016 کال په نسبت اوس د خلکو په اقتصادي وده کي کموالی راغلی او خلکو د ډېر رشوت ورکولو توان له لاسه ورکړی دی.
د دې خبرې ښه ثبوت په خپله د رونتیا د څار بنسټ لخوا د سږکال او د 2016 کال کي د رشوت ورکوونکو تعداد دی چي په 2016 کال کي کابو دري ملیونه خلکو رشوت ورکړی و اما سږکال له 4.5 ملیونو زیاتو خلکو رشوت ورکړی دی. معنا دا چي سږکال ډیرو خلکو رشوت ورکړی دی او سږکال د تیرو کلونو په پرتله ډېر خلک رشوت ورکولو ته اړ شوي دي.
په نوې سروې کي خو یوازې محاکم، څارنوالي او معارف په فساد کي ډوب بنسټونه یاد شوي دي، خو که دقیق وکتل شي د کورنیو چارو وزارت په ګډون نور امنیتي بنسټونه هم له فساده خالي نه دي او حتی امکان لري چي له پورته یادو شویو بنسټونو څخه هم زیات فساد په کي موجود وي. ځکه په پولیسو تور پورې دی چي د مجرم په نیولو کي ناغیرې کوي او آن په ځینو پیښو کي خو له مجرمانو سره د پولیسو د لاس لرلو ادعاوې هم موجودې وي.
مجرم خو لومړی په اسانی نه نیول کیږي او که بیا ونیول هم شي نو په لومړي سر کي له مربوطه حوزې خوشې کیږي، یا که له حوزې تر قوماندانۍ راشي نو دلته د واسطې په زور خوشې کیږي او که بیا جرم یې ډیر رسنیز شوی وي او قضیه یي قضایي او عدلي ارګانونو ته راجع شوې وي نو بیا په دغه بنسټونو کي ورسره په آسانی معامله ترسره کیږي او مجرم سرې سترګي خوشې کیږي. یا که په یو چا تور پورې کیږي او بیا د څېړلو لپاره عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفي کیږي، که بیا د محکمي لخوا سپین او بې ګناه هم وپیژندل شي نو بیا هم قضیه یي په آسانۍ نه خلاصیږي او په میاشتو میاشتو د نوموړي تورن پر وړاندې قضیه پرته وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## افغانان هم میلونران کیدلی شو خو څنګه؟

د رونیتیا د ښار بنسټ وايي، افغانانو روان کال دوه ملیارده ډالر رشوت ورکړی دی.
یو ملیارد زر ملیونه کیږي او یو ملیون لس لکه کیږي، که دغه دوه ملیارده پیسي د افغانستان پر 33 میلیونه نفوس وویشو نو هر افغان ته سړي سر څه د پاسه 57 میلونه ډالر رسیږي.
نو ای رشوت ورکوونکیو!
دغه پیسي چي مو حاکمانو او مفسدانو ته د رشوت په ډول ورکړي؛ که مو د افغانستان پر ولس ویشلي وای نو هر افغان به مو له بدبختی، فقر، او اقتصادي مشکلاتو ژغورلی و. افغانستان به مو له سوال کولو او ګدای ګری ساتلی و. افغانستان به مو په خپل ځان بسیا کړی و، هم خپل او هم د افغانستان نوم به مو روښانه کړی و، کچیری تاسي دغه په رشوت کي ورکړل شوي پیسي په عامو افغانانو ویشلی وای نو هیڅ افغان به بیا نورو ته د سوال لاس نه اوږدولو بلکي نورو سره به یي مرسته کوله. اوس به هر افغان میلونر و.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ